عبدالباري جهاني / تاريخ، بخش: رجال سیاسی و شخصیت های تأریخی

۲۰۲۰/۱۰/۱۰

# شجاع الملک یا شاه شجاع



شجاع الملک یا شاه شجاع، د تیمور شاه دراني ( ۱۷۷۳-۱۷۹۳) اووم زوی، د خپل پلار د پاچهی په لسم کال یعني ۱۷۸۳ کال دنیا ته راغی. شاه شجاع ښایی، د خپل پلار له وفات څخه وروسته، یوازي څه کم اته کلونه، چي د ده مشر ورور شاه زمان د افغانستان پاچا وو او ده ته یي د پیښور سیمه سپارلي وه، په آرامي کي تېر کړي وي. د واقعات شاه شجاع په نوم خاطراتو او د اشعارو له دیوان څخه یي معلومیږي چي د خپل پلار په اولادونو کي یو له ډېرو رسېدلو او با استعدادو کسانو څخه وو.

په ۱۸۰۱ کال کي د خپل ورور شاه زمان له نسکورېدلو او ړندېدلو څخه وروسته یي په ۱۸۴۲ کال کي تر قتلېدلو پوري ټول ژوند د قدرت د نیولو او ساتلو لپاره په جنګونو او دسیسو کي تېر کړ. په اکثرو جنګونو کي له شکستونو څخه یي معلومیږي چي هم بې طالع او هم بې زړه سړی وو.

شاه شجاع په ۱۸۰۹ کال کي، چي تازه یي د شرق الهند کمپنی د استازي مونستارټ الفینستون Mountstuart Elphinstone سره د دوستي تړون لاسلیک کړی وو، خپل ورور شاه محمود له قدرته وپرزاوه او د شاه شجاع د سرګردانیو دوران پیل سو. هغه د قدرت د بیرته نیولو لپاره له هیڅ وسیلي څخه مخ نه اړاوه. دي هدف ته د رسېدلو لپاره یي د افغانانو د تر ټولو لوی دښمن او د ده خپل شخصي غلیم رنجیت سینګه لمني ته لاس واچاوه او د هغه ټول سخت، حتی شرموونکي، شرایط یي وسره ومنل.

په ۱۸۳۴ کال کي یي، د انګرېزانو په مرسته، یو لوی لښکر ترتیب کړ. خو مخکي تر هغه چي د کابل تخت یي په نصیب سي په کندهار کي یي د امیر دوست محمدخان له لاسه ماته وکړه او بیرته د انګرېزانو خیرات ته محتاج سو. په ۱۸۳۹ کال کي یي، یو ځل بیا، د انګرېزانو په مستقیمه مرسته او د هغوی له پوځونو سره، پر افغانستان باندي یرغل وکړ. د کابل تخت یي ونیوی؛ خو د تل لپاره یي د یوه وطن پلورونکي پاچا نوم وګاټه.

د انګرېزانو د پوځ په مقابل کي د ۱۸۴۱ کال د نومبر په میاشت کي ملي پاڅون پیل سو. د هغوی دوه لوی مشران، الیکزانډر برنس او ویلیم مکناټن یو په بل پسي ووژل سول او د هغوی پوځ د ۱۸۴۲ کال د جنوري په میاشت کي له افغانستان څخه وتلو ته مجبور کړه سو. پوځ یي د کابل څخه تر جلال آباد پوري، د افغانانو په حملو کي تباه سو او شاه شجاع د افغانانو قهر ته یوازي پاته سو. شاه شجاع بالاخره د ۱۸۴۲ کال د اپرېل پر څلورمه سهار وختي، د نواب زمان خان زوی شجاع الدوله، چي نوم یي هم ده پخپله ورباندي ایښی وو، قتل کړ. او له ډېر بد نوم سره تر دنیا تېر سو.